پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۱/۳۱م

# د ټولټاکنو ستونزې او دټیکاولارنقشې

( لومړۍ برخه )

هر یو سهار , هر مازدیګر جنازه          کله وی لر , کله وی بر جنازه

( غ. م. کامه وال )

د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر د لړزونکو پیښو را وروسته چې د امریکا په مشرۍ ائتلافي ځواکونو دهمدغه لامل په بهانه افغانستان ته ور ودانګل او د ۱۹۹۲ کلونو د اړو دوړ مشران ئې په ارګ کې ځای پرځای کړه , په هیوادکی یو ځل بیا دتنظیمی انارشیو د ډار سیوری لمن و غوړول چې له نیکه مرغه یی دا پلا ډیر دوام ونه موند او د بن کنفرانس په پریکړو سره دپیښو لوری پر بله خوا واوښت . د لنډ مهال او انتقالي حکومتونو وروسته د یادوني وړ پایله د لویی جرګې په مټ د اسلسی قانون تصویب او ورسره جوخت د اولسمشرۍ ټولټاکنې او بیا د ملي شورا ټاکنې وی .

اساسی قانون چې دسیمی په کچه ډیر زیات دیموکراتیک ارزښتونه لری , دیوی مدنی ټولني دپاره یوه په زړه پوری وثیقه ده . دهمدغه قانون له مخی په هیواد کې انتخابی اولسمشر او پارالمان منځته راغلل . ښکاره خبره ده چې ازادی دیموکراتیکی ټاکنی دیوه هیواد د ملی ژوند ( حیات ملی ) هغه غوښینه برخه ګڼل کیږی چې یه آرامه (بالامنیته) , خپلواکه او په نړیوالو نورمونو برابره مدنی ټولنه اړتیا ورته لری .

راشي وګورو , دغه ملي وثیقه چې د دومره ژورو دیموکراتیکو پرنسیپونو سره و افغانی ټولني ته ډالی شوه , ایا دغه ټولنه د لوړو مدنی معیارونو په پام کی نیولوسره څومره ددی ډالی ومنلو ته تیاره وه او تر کومی کچې یی د دومره دیموکراتیکو ازادیو دپاره دهظمولوتوان درلود ؟

افغانی ټولنه دخپل تاریخی تکامل له مخی یوه دودیزه فیوډالي اونیمه فیوډالي ټولنه وه چې دتیرو درولسیزو غم لړلو پیښو دنړیوال تمدن څخه لانور هم تجریده او پری کړه . پدغه موده کی هلته یو ټوپکي , جنګی او دتقابل مورال واکمن شو . ددغسی مورال په واکمنی کی یو دبل حقوقو ته داحترام کولو دود او اندول له منځه ځی , پرځای یی دځان غوښتني , تجاوز اوخشونت اخلاق ریښی ځغلوی . پدی خاطر نو دنړیوالو نورمونو په پام کی نیولو سره ویلای شو چې داټولنه دمدنی ټولني په پرتله و دودیزی ته ډیره نژدی او د یوی پرمختللي مدنی ټولني دپاره دیموکراتیک پرنسیپونه دجنګی مورال په واکمنی کی په ډیرې سختي سره دهظم وړ دی . داچې د یوبل حقوقوته ددرناوې کچه ټیټه ده نو دیموکراتیکي آزادي دلته د انارشی د ودی په لاره کی کارول کیږی . آ رامی اوامنیت چې د دیموکراسی د پیاده کولو دپاره یو ډیر اړین عنصر دی , داګړی مو هیواد او ټولنه تری نه بې برخی ده . دبلې خوا په افغانستان کی دامریکا په مشری د ائتلافی قواوو خپلسرې عملیات , په نیمه شپه کی دکوروونو تلاشی , په خپل سر دخلګو نیول او بندیانول او همدارنګه دمحاکمي له ویرې پرته دملکي خلګو ډله ایزه وژنه - دا بیا هغه څه دی چې دهیواد خپلواکي تر پوښتني لاندی راولي .

دا به ومنو چې د ائتلافی قوتونو راتګ افغانستان ته د م. م. دامنیت شورا دمخکني پریکړې پربنسټ تر سره شو . دا کار که دمشروعیت لپاره لازم شرط دی ولي په یوازې سر کافی شرط ندی ځکه چې ترراتګ وروسته ضرور ده داړوندهیواد خپلواک حاکمیت و قوانینوته درناوی وشی , د اوولس او مشرتابه غوښتني په پام کي ونیولي شی . مګرنومړو قوتونو دهری ورځی په تیریدو سره خپل دغه مکلفیتونه ترپښو لاندی کړل . داکار د خپلواک هیواد دحاکمیت د اصولو سره په ټکر کی راځی او یو لړ پوښتني رامنځته کوی .

را به شواو دیموکراسی ته به بیرته راوګرځو . که موږ دا ومنو چې د دیموکراسۍ اړینه برخه او اساسی بنسټ په ټولنه کی دیو بل قانونی حقونو او ازادیو ته احترام کول دی , نو دیموکراسی بیا د انساني ژوند یو ډیر په زړه پوری رکن او د وګړو پاره لوی نعمت د ی . دانعمت لودیزو او نورو پرختللو هیوادونو ته نه دکوم فرمان له مخی منځته راغلي او نه هم دکوم بل هیواد نه ورته وارد یا ډالي شویدی . دیموکراسي دلته دپیریو په تیریدو سره د ټولنیز تکامل محصول ده چی په تدریجی توګه یی انکشاف موندلي او ننني پوخوالی یی ترلاسه کړیدی .

پدی اړه غوارم د بیلګی په ډول د ډنمارک هیواد راواخلم چې همداګړی د غوړیدلي دیموکراسي په غیږ کی پرمختللی اقتصاد او ورسره سم ارامه او سوکاله ټولنه لری . په ډنمارک کی د دیموکراسی بهیر اصلاً د ۱۸٤۹ کال نه راپیل سو . په لومړی سرکی داچې ذهنیتونه لاپوره اماده نه وه او ډول ډول مقاومتونه موجود وه نو یوازی هغو نارینه اتباعو ته چې عمر یی له ۳۰ کالو جګ اوتر یوی ټاکلي اندازی پوری یی شتمنی درلوده ، د رایی ورکولو او ځان کاندید کولو حق ورکړل شو . یوازی ٦٦ کاله وروسته یانی په ۱۹۱۵ کی ښځو او غیرشتمنو عادی وګړو هم



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

داحق  پلاس راوړ او وروسته د رايي ورکوونکو سن هم راټيټ شو . ددی سره سره چی ښځو اونارينه وو يو ډول زده کړی تر لاسه کولې خو کابينه ټوله له نارينه وو جوړه او يوازی په ۱۹۲٤ کال کی لومړنۍ ښځينه وزيره وټاکل شوه . په همدی توګه د ديموکراسۍ نور پرنسيپونه هم يو په بل پسی ګام په ګام د ټولنې دغړو د ذهنيت د اماده کيدو او يو دبل حقونو ته د درناوی بهير دپرمختيا سره سم پياده شوی چی ننني غوړيدلې او سوکاله دهر ډول اداری فساد نه خلاصه ټولنه يی په زړه پوری محصول او پايله ده .

د لوړی يادونې نه می موخه هيڅکله دانده چی د ډنمارک پر پله دی پل کښيښودل شی اوقدم په قدم دی تعقيب شی , بلکه هدف دادی چی د ټولنې د تکامل پړاونه  و پوخوالې ته د رسيدلو يوزانۍ ګټوره اوباوری لاره ده . د ديموکراسۍ دا ښکلې ناوی افغانانو ته و منځنيو پيړيو ته نژدی واکمنوشرايطو کی يو دم د امريکا او لوديزو انډيوالانودنظامی ټولګيو د ورا سره په بدرګه دچا خبره پر ټانک سپره راوستل شوه . بيله دی چی حاکم ذهنيت په پام کی ونيول شی , د ټولو هغو آزاديو سره چی امريکا او لوديز دپيړيو څخه  دتدريجی تکامل په پايله کی تر لاسه کړی وه , دلته په يوه فرمان سره ټولنې ته ډالۍ شوه . داکار هغه څه ته ورته والۍ لری چی د ۱۳۵۷ کال د ثور تراوښون وروسته , په فيوډالې او نيم فيوډالې شرايطو کی دغيرپانګوالې پرمختيا لاره د ستراتيژۍ په توګه اعلان شوه او پايله يی منفی را ووته . دايومنل شوی حقيقت دی چی يو بشپړ ستر ښار په فرمان سره ابادېدلای شی مګر تراوسه پوری هيڅ يو زورور مطلق العنان ټوواک هم پدی ندی توانيدلې چی په فرمان سره ديوه نفرذهنيت ته تغير ورکړی .

پدی توګه زموږ په افغاني ټولنه کی اروپايی ديموکراسۍ د انارشيزم سره ګډوډه او د ټولنې منل شوی ارزښتونه تر پښو لاندی شول . داچی د قانون دانفاذ دپاره قهريه قوه موجود نه وه نو د زورورو لخوا د کمزورو پرحقونو باندی تجاوز پيل شو . اختلاس او بډی اخيستل د اداری اجرااتو يوه نه شليدونکې برخه وګرځيدل , منفی بيروکراتيک چلند زور واخيست او اداری فساد د کوز څخه تر پاسه ميدان يووړ او دولت يی د رسوايی ترکچی پوری نوم بدۍ کړ. ليوه له خدايه باد او باران غواړی , ددی حالت څخه نامهربانه ګاونډانو ګټه پورته کړه او دخپلو پلويانو په مټ چی دپخوانه لا په کمين کی ناست وه , دپرګنو تر منځ دنفرت او کينی اور ته لمن وهی .

دبلې خوا نه دهيواد مشران داچی دمخنيوې دپاره يی قهريه قوه نلری , لاس تر زنې ناست او ديموکراسۍ ته د درناوۍ تر نامه لاندی ځانته د برائت سند جوړوی . توپکوال جګړه مارانو ددی ټولوناخوالو شاته سنګر نيولې , امريکا او ناټو د دوه مخی سياست سره ددغو ناخوالو تماشاوی کوی . هغه ډلې چی دملې اردو او پوليسو په جامو کی را ټولې شويدی , ديوی خوا ددغو ناخوالو سره دمقابلې او دقانون دانفاذ توان نلری او له بلې خوا نه يی ډيرۍ و دی تياردی چی د اړتيا پرمهال عسکری يونيفورم وغورځوی او پکول پرسر کړی .

د هيواد په ديموکراتيک اساسی قانون کی دنورو ازاديو تر څنګ د اولسمشری او ملې شورا ازادی ټاکنې هم دنوموړی قانون دلويو لاسته راوړنو څخه دی چی لدی لاری د اتباعو يو خورا مهم او په زړه پوری حق تامينيږی . داګړې د راتلونکې اولسمشر دپاره د ټولټاکنو موضوع په هيواد کی دننه د ميډيا تر ټولوزيا ت د تودو بحثونو خبره ده اوهر شنونکۍ يی دخپل شخصی سيمپاتۍ او  انتی پاتۍ  په انډول څيړی .

ديو لړ قانونی معذرتونو , کاری نيمګړتياوو او ځينو نورو تخنيکی او مالی ستونزو له کبله دټولټاکنو مستقل کميسيون د م. م. او اړوندو نړيوالو ټولنو سره داړيکو نيولو وروسته وپتييل چی دا ټولټاکنې دخپل ټاکلې وخت نه څلور مياشتی وځندوی . دی خبر په اولسی جرګی او له هغی نه دباندی ديوشمير کسانو په ځانګړې توګه د اوسنې اولسمشر کرزی مخالفانو قهر او غوصه را وپارول . دوی وايی چی داکار د اساسی قانون د ٦١ مادی سره اړخ نه لګوی او ددغی مادی په ښکاره تر پښو لاندی کول دی .

که خبره يوازی دفورماليتۍ له مخی د ٦١ مادی په تړاو وی نو دغه کسان رښتيا وايی ځکه هلته دنوموړی مادی په دويمه او دريمه فقرو ( برخو ) کی داسی راغلی دی :

,, دجمهور رئيس وظيفه تر انتخاباتو وروسته دپنځم کال دغبرګولې په لومړۍ نيټه پای ته رسيږی .
دجمهور رئيس د کار تر پای ته رسيدو دمخه د نوی جمهوررئيس د ټاکلو انتخابات له ۳۰ - ٦۰ ورځو پوری موده کی کيږی ,, .

خو دغو ښاغلو ته چی ددی مادی دوی اخيری فقری هرګړۍ د اولس , ميډيا او کرزی مخ ته ايږدی او ګويا خپل منطق پری غښتلې کوی , پکار ده چی دهمدی مادی لومړۍ فقره هم په پام کی ونيسی , په خپل ګريوان کی وګوری , خدای ته مخ خلګو ته شا کړی , هغه په غور ولولې , دټولو هيوادوالو حقونه په نظر کی را وګرځوی او بيا خپل وجدان قاضی کړی او قضاوت وکړی . که ددوی نه دنوموړی فقری متن هير يا ورک شوی وی , زه به يی ور پياد کړم , هلته داسی راغلې دی :

دليکنې ددی برخی پای . دويمه پاته برخه مه هيروی . اوس مو الله پاک مل شه !


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de